# مقدمة وغلاف المنتقى من موسوعة الأحاديث النبوية

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سریزه

الحمد لله رب العالمين، وصلى الله وسلم على نبينا محمد، وعلى آله وصحبه أجمعين، ومن تبعهم بإحسان إلى يوم الدين، أما بعد:

تر ټولو لوی شی چې یو مسلمان ورته باید پاملرنه وکړي هغه د الله تعالی له کتاب څخه وروسته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سنتو: لوستل، پکې غور او تدبر کول، زده کول او پرې عمل کول دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي:

«تركتُ فيكم أيُّها الناس، ما إنِ اعتصمتم به، فلن تضلُّوا أبدًا: كتاب الله، وسُنَّة نبيِّه»

"اې خلکو، په تاسو کې مې (دوه ځیزونه) پرېښي دي، تر څو مو چې پرې منګولې لګولې وي هیڅکله به بې لارې نه شئ؛ (هغه ) د الله تعالی کتاب او د هغه د نبي سنت دي". (دا حدیث ) امام مالک روایت کړی دی، او الله تعالی فرمایلي دي:

{وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا}

(او رسول چې تاسو ته څه درکړي، نو هغه واخلئ او له څه نه چې هغه تاسو منع کړي یاستئ، نو تاسو منع شئ). [الحشر: 7]، له همدې امله په (ګڼو) ژبو د اسلامي منځپانګو د خدمت ټولنه او په ربوه کې د لړکیو د پوهاوي ټولنه هڅه کوي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احادیثو موسوعه چمتو کړي او ګڼو ژبو ته یې وژباړي.

او د الله تعالی (په توفيق سره) د هغو حديثونو يوه ټولګه و ټاکل شوه چې يو مسلمان ورته د خپل دين او دنيا په چارو کې اړتيا لري، ( دا حديثونه) د معنی او مفاهيمو له لنډې تشريح، استدلال او ګټو بيانولو سره د يو کتاب په بڼه چمتو شول چې نوم يې: (د نبوي حديثونو له موسوعې څخه غوره شوي حديثونه) دا (حديثونه) د نړۍ ټولو مشهورو ژبو ته ژباړل شوي، چې محتوا يې ټولو ته ګټوره تمامه شي او د رسول الله صلی الله عليه وسلم سنت ټول بشريت ته د دوی په ژبو ورسيږي.

له الله تعالی څخه غواړو چې دا کار په خپل دربار کې قبول او منظور کړي او خاص د هغه د رضا لپاره يې اخلاصمند وګرځوي او هر هغه چا ته اجر ورکړي چې د دې په چمتو کولو، ژباړلو او خپرولو کې يې مرسته کړې ده.

وصلی الله وسلم علی نبينا محمد

لنډه پيژندنه

نبوي احاديث د شريعت له سرچينو څخه دويمه سرچينه ده، الله تعالی فرمايلي:

{وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى (٣) إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى}

(او دی له خپل خواهش نه خبرې نه کوي،

دا له وحې پرته بل څه نه دي چې ورته رالیږل کیږي).

[النجم: 3-4].

د حديثونو له موسوعې څخه د دې ټولګې په ټاکلو کې هغه حديثونه - له لنډې تشريح، د معناوو وضاحت او استدلال سره

- غوره شوي چې جامع دي او يو مسلمان ورته د خپل دين او دنيا په چارو کې اړتيا لري، سربيره پر دې د نړۍ ټولو مشهورو ژبو ته ژباړل شوي تر څو يې منځپانګه ګټوره وي او د رسول الله صلى الله عليه وسلم سنت ټول بشريت ته د هغوی په ژبو ورسيږي.

# فهرست

No table of contents entries found

ps375v1.0 - 04/09/2026